کفت ایډیشن

# نظر پانه

انجینئر فاروق خان فاروق

پښتونستان
پښتو چاټ نېټ

# دَ دې کتاب ټول واک اختيار زما دے

ستا سو کيل او مشورې:

nazarpanra@gmail.com

www.nazarpanra.page.tl

دَ چاپ کال : ۲۰۰۸ء

سرپاڼه :انجينئر فاروق خان فاروق

معاون: محمد عرفان مردان

فوټوګرافي: احتشام الحق بريال (رين بو فوټوګرافرز مردان)

جمال کمپوزنګ مردان

شمير: ۱۰۰۰

بيعه: ۱۵۰ روپۍ

د موندلو درکونه:

پښتونخوا کتاب ځاے شمسي روډ مردان

فرينډز بک شاپ دوکان نمبر ۳، پي آر سي چوک مردان

لندن بک ډپو بالمقابل ايوب ميډيکل کمپليکس ايبټ آباد

پښتو اکيډمي بک شاپ، پېښور يونيور سټي (انور خان کاکا)

......☆☆☆......

# نظر پانه

مردان دَ ادب گلبڼ دے۔ نوی نوی ادبی گلونه پکښې تو کیږی۔ چې خپل رنګونه او خوشبویانې خورَوی۔ الله پاک دې گلشن له ښهٔ ښهٔ مالیاران ورکړی دی۔ چې د دې ادبی گلونو آبیاری، روزنه او پالنه کوی۔ دا ادبی ستر شخصیتونه لکه قمر راهی صېب، اصغر لاله، پیر گوهر صېب، ډاکټر اسرار صېب، اسرار دَ طورو، عبدالروف زاهد، ډاکټر همایون هما، اندېښ صېب، محمد اقبال اقبال، بشیر زار او ورپسې نورالبشر نوید، م۔ ر۔ شفق، محب الله شوق، مشتاق مجروح، زبېر حسرت، دا ټول لا په دې دُنیا دَ ژوند سترګې غړوی او دَ خپلو ادبی شا زلمو رهنمائی او حوصله افزائی کوی او دَ مردان په سیمه ئې ډېر ادبی ستوری ځلولی دی لکه هدایت الله گل، فیض الوهاب فیض، امتیاز عابد، مامون الرشید باچا، محمد سعید سعید، حضرت زبېر، واحد یوسفزے، شاهد علی شاهد او داسې نور ګڼ زلمی ځوانان۔ راهی صېب او اندېښ صېب سره دَ بیماری دَ ادبی زلمو ځوانانو سرپرستی کوی او دَ دوی په برکت دَ مردان ادبی هلې ځلې په جوبن کښې دی۔

دا وخت ماته دَ انجنیئر فاروق خان فاروق چې په مردان کښې استوګن دے شعری مجموعه "نظر پانه" مخې ته پرته ده۔ برخوردار فاروق خان د مردان د سروسز پبلک سکول نه لسم جمات په ښو نمبرو پاس کړے دے او اسلامیه کالج پېښور کښې

د ایف۔ایس۔سی نه پس دَ پېښور انجنیئرنګ یونیورستی نه پهٔ مېکېنیکل انجنیئرنګ (Mechanical Engineering) کښې په ښو نمبرو ډګری حاصله کړې ده او .M.S ئې دَ U.K. برطانیې نه جاری دے۔ نن سبا ئې پهٔ مانسهره کښې بین الاقوامی اداره (I.R.C Pakistan) ته خپل خدمات وړاندې کړی دی۔ دَ برخوردار فاروق دَ شاعرئ هم شوق دے۔ ساده عام فهمه شاعری کوی۔ لکه څهٔ رنګ چې ما مخکښې ذکر کړے دے دَ هغوی شعری مجموعه دَ "نظر پانړه" په نوم زما په وړاندې ده۔ ما ئې چې په شاعرئ نظر واچوؤ نو پوهه شوم چې دَ ځوانئ له کبله دَ رومان په دُنیا کښې ورک دے او دَ خپل جانان په لټون دے او چې جانان ئې پهٔ نظر رانشی نو سپوږمئ ته ګویا شی۔

سپوږمی دَ لرې دې ښکلولې نشم
ګنی دَ یار مینه په تا ماتېږی

او چې ناڅاپه ئې جانان په غېږ کښې واخلی نو وائی

ښه ده پهٔ غېږ کښې دې وچت ونیؤم
ګنی دَ خیال پروئ پهٔ ما ماتېږی

او چې دَ دې رومان دَ دنیا نه لږ رابهر شی نو په خپله پښتنه خاوره او پښتون قام ئې نظر پرېوځی نو دَ خپل ارمان په آواز وائی۔

راشئ یو ځائ شئ پښتنو ملګرو!
ګنی زمونږه پښتونخوا ماتېږی

يوه التجا دَ ادب ستر پوهانو ته دا کوم چې دَ ادب په دنيا کښې نوی داخل زلمو سره رعايت پکار دے۔ چې دَ تنقيد په نشتر ئې جذبات مجروح نشي او دَ مايوسی ښکار نهٔ شی۔ دا به ادب سره هم زياتې وی او پښتو ليک لوست سره هم۔ ځکه چې دَ اندېښ صهب دَ وېنا مطابق پښتو نهٔ دَ معاش ژبه ده او نهٔ په سکولونو کښې دَ لازمی مضمون په توګه شامله ده۔ پښتو وئيلې خو شی۔ خو دَ ليک لوست نه عام خلق خو پرېږده، تعليم يافته خلق هُم په شا دی، زلمو شاعرانو اديبانو دَ پښتو ليک لوست ژوندے ساتلے دے دا هم دَ پښتو لپاره يو غنيمت دے۔ ما برخوردار فاروق ته په دې شعری مجموعه کښې چې څو مره خامی وې هغه په ګوته کړې دی۔ او فاروق پهٔ فراخ زړهٔ منلی دی۔ اميد دے چې کتاب دَ چاپ نه راوځی نو ډېرې خامی به ترې لرې وی۔ په دې شعری مجموعه کښې دَ غزلو نه علاوه نظمونه، آزاد نظمونه، هائيکو او قطعې هم شاملې دی۔ چې دَ مينې ډک جذبات پکښې شيندلی شوی دی۔ دَ حمد و ثنا نه ئې شروع کړې ده۔ دَ ټائټل په مخ ئې داسې شعر درج دے چې دَ دهٔ دَ فکر حاصل دے۔

هره پاڼه مې دَ ژوند ده، نظر پاڼه
تل دَ يار سترګو ته ما ده، لوګے کړې

اکرام الله ګران

۲۳-۰۳-۲۰۰۸

......☆☆☆......

☆

انجنيئر فاروق خان زمونږ دَ ادبي زرغونې يو نوې تاند تهغې دے۔ دَ ژوندژواک وسيله که ئې هر څو انګرېزي ګرځېدلې ده خو دَ خپلې مورنۍ ژبې سره ئې تړون چرې نۀ دے پرېکړے۔ پښتو ښۀ په مينه وائي هم، لوَلي هم او ليکي هم۔ دَ دغه رنګ شاه زلمو خپلې ژبې ته پاملرنه ډېره لويه نېکمرغي ده۔

ښاغلے فاروق دَ مينې محبت او ښکلا په سيند کښې غوپې وهي په ستورو سپوږمۍ او ګلونو کښې دَ خپلې ورکې مينې نخښې او يادونه لټوي دَ خپلې ځوانۍ مستې نغمې، دَ خپلې لېونۍ مينې واقعات او واردات دَ خپل شعر په لړو کښې ګېئوي۔

"نظر پاڼه" دَدۀ اولنے قدم دے۔ هيله ده چې ځلمے کهول به ورته هرکلے ووائي۔ او دَ خپلې ژبې او خپلې مينې د پاره سپېڅلي جذبات لرونکے فاروق به دَ ادبي دنيا يو ځلېدونکے ستورے وګرځي۔

**مننه**

اباسين يوسفزے

چيئرمېن پښتو څانګه

اسلاميه کالج پېښور

نېټه: ۱۵ مارچ ۲۰۰۸ء

......☆☆☆......

☆

☆...... دَ ژوند دَ هر میدان وړو مبنے قدم دَ خپل راروان مستقبل ضامن وی۔ او کله کله داسې هم وشی چې دَ ماضی څهٔ یادونه دَ ندامت باعث وګرځی۔ خو بل طرف ته ډېر داسې څیزونه هم وی چې په هغې دَ روښانه مستقبل بنیادونه نور هم مضبوطیږی۔ او زما په خیال چې په هاغه څیزونو کښې دَ ټولو نه اهم کار دَ خپل فن سره مینه او انصاف کول دی۔

☆...... خبره اوږدول نهٔ غواړم خو مطلب مې دا دے چې فاروق خان فاروقؔ چې په کومه مینه او خلوص دَ خپلې مورنی ژبې پښتو دَ خدمت انتخاب کړے دے۔ نو دَ هغې نمونه پخپله دا "نظر پاڼه" ده۔

☆...... دا "نظر پاڼه" دَ زلمی فاروق خان فاروقؔ دَ ادب په میدان کښې هاغه وړمبنے قدم دے چې مونږ ترې نه دَ هغهٔ دَ روښانه مستقبل اندازه ښهٔ په اسانه لګولې شو۔

☆...... زما دعا ده چې الله تعالیٰ دې زمونږ دَ ټولو اندازې صحیح ثابتې کړی۔ دغه شان به دَ فاروقؔ روښانه مستقبل نهٔ یوازے دَ پښتو له پاره دَ خوشحالۍ زیرے وګرځی بلکې خصوصاً دَ مردان دَ ادبی روایت دَ برقرار ساتلو له پاره به هم دَ فخر او ویاړ یو نهٔ ورانیدونکے ثبوت پاتې شی۔

امتیازؔ عابد

۳۰ مارچ ۲۰۰۸ء مردان

# دَ دې کتاب مقصد

دَ ټولو نه مخکښې دَ الله تعالیٰ ډېر ډېر شُکر دے چې ماله ئې دومره حوصله راکړه چې زهٔ ئې دَ دې کتاب ليکلو جوګه کړم، دا بيله خبره ده چې دَ ليکلو معيار به هغه نهٔ وی چې کوم دَ يو ښهٔ کتاب ضمانت وی۔

دا زما اولنے قدم دے او کلکه اراده مې ده چې دا قدم به اولنے ضرور وی خو اخری نه۔ زهٔ دا هم منم چې دې کتاب کښې به بلها غلطئ وی خو ماشوم چې اولنے قدم اخلی نو خامخا راپرېوځی او بيا پاځی او هم دغه شان دَ خپل ژوند دَ سفر آغاز کوی۔

دَدې کتاب ليکلو مقصد صرف او صرف دَ پښتو ژبې سره دَ اخلاص او ترون اعلان دے او دا يادګيرنه ځان ته او بيا نورو پښتنو وروڼو خوېندو ته ورکول دی چې پښتو صرف يو ژبه نهٔ ده بلکې دا يو پوره دَ ژوند نظام دے۔ مونږ له پکار دی چې دَ خپلې مورنۍ ژبې سره پوره پوره مينه ولرو، هر څو کهٔ زمونږ دَ ژوند او کار شعبې، دَ جُدا جُدا ژبو سره تعلق لری۔ په دې لړ کښې زهٔ د خپل ملګری محمد رفيق صادق خصوصاً ستا ينه کوم چې د سائنسی تعليم باوجود ئې پښتو خپله کړه او کتاب ئې چاپ کړو۔

انجنئیر فاروق خان فاروق

......☆☆☆......

# ډېره مننه

ستاسو په لاس کښې چې کومه "نظرپانه" ده، دا هله "نظرپانه" شوه چې کله دَ پښتو ژبې دَ هوښيارو نظرونو نه راتېره شوه۔ په دې نظرونو کښې ښاغلے اکرام الله ګران صېب چې دَ پښتو غزل يو منلے شوے نوم دے، دومره خوږ او عاجز طبيعته انسان ما په اولنی ځل وليدو چې کله ورله زهٔ او امتياز عابدؔ چارسدې ته لاړو۔ زهٔ چې ئې څنګه وليدم نو امتياز عابدؔ ته ئې مخ راواړوهٔ چې دا خو دوهم "اباسينؔ" دے۔ ډېر په مينه ئې مونږ له وخت راکړو او زما د دې خام ليکلو دَ کتو دَپاره ئې وخت ووېستلو۔ ماسره الفاظ نشته چې زهٔ دَ دوی دَ دې دومره شفقت شکريه اداکړم۔

اباسين صېب!

دَ دوی نوم، دَ دوی شاعری او دَ دوی شخصيت يو داسې مثلث دے چې ټولې زاوئيې ئې برابر دی او دا مقام ډېرو کمو شاعرانو ته نصيب شوے دے۔ شُکر دا دے چې زمونږ دا ليکونکی هر وخت دَ پښتو ژبې دَ پاره ملا تړلی موجود وی او اباسين صېب خو ځان ته دَ پښتو ژبې تبليغی وائی۔ انتهائی سخی او غټ زړهٔ لرونکے انسان دے۔ دَ نوی ليکونکو دَپاره دَ حوصلې علامت دے۔

امتياز عابد!

زما کلی وال دے او لکه دَ اکرام الله ګران صېب پښان

ډېر عاجز طبيعته انسان دے۔ دَ ۱۹۸۲ء نه ئې دَ پښتو ادب سره خان تړلے دے۔ او دَ څو کتابونو مصنّف دے او ډېر ښهٔ ليکل ئې کړې دی۔ ډېر فراخ دِله او محنتي انسان دے۔ زما د کتاب لفظ لفظ ئې لکه دَ اباسين صېب او ګران صېب وکتلو او اصلاح ئې وکړه۔ دوی ماسره دَ دې کتاب پهٔ چاپ کښې ډېره منله تړه ووهله او ماته ئې دا ګران کار ډېر آسان کړو۔ دوی هم دَ زلمی ليکونکو دَپاره دَ يو اُستاد حېثيت لری۔

دَ دې نه علاوه زهٔ دَ هغو ټولو ملګرو شکريه ادا کوم دَ چا په ډاډ چې زهٔ دَ دې کتاب چاپ ته جوړ شوم۔ پهٔ دې ملګرو کښې ناصر حليم (چارسده)، عباس خان (صوابی)، عمران خان (درګئی ملاکنډ)، احمد وهاب (درګئی ملاکنډ)، رشيد خان (ملاکنډ)، اول خان (لوند خوړ مردان)، حبيبُ الحسن (باجوړ)، وقاص حليم (چارسده)، شاهد خان آفريدی (خيبر)، اسماعيل خان(چارسده)، طواف خان (خيبر)، ابراهيم خان (درګئی ملاکنډ)، خيال باچا (رشکئی نوشهره) او عمران جان (بدرګه درګئی) شامل دی۔ کوم ملګری چې دَ ليک نه پاتې دی نو هغوی نه بخښنه غواړم۔

د محترمو استاذانو وزير ذاده صېب (د طورو) او حضرت عمر صېب (دچاټو مردان) ډېره ډېره مننه چې زهٔ ئې په پرائمری سکول کښې د پښتو په ليک لوست پوهه کړے وم۔

دَ دې کتاب دَ نوم پهٔ کښودو کښې زما د ملګری عامر جمال خټک مور (چې ما ورته هم مور وئيلی دی) زما ډېره رهنمائی وکړه۔ زهٔ دَ هغوی هم ډېره شکريه ادا کوم۔

ډېر په درناوی

انجنيئر فاروق خان فاروق

# تړون

هره پاڼه مې دَ ژوند ده، نظرپاڼه
تل دَ یار سترګو ته ما ده، لوګے کړې

زړهٔ ځیګر او سترګې واړه ترې قربان شه
زندګی مې ټوله یار ته وربخښلې

انجنیئر فاروق خان فاروق

......☆☆☆......

# حمد و ثناء!

په نامه دَ هغه اللهُ

چې دا کُل کائنات ور ته
دَ ماشی دَ وَزر نه هم کمزورے ښکارې

په نامه دَ هغه اللهُ

چې په قدرت کښې ئې
دَ وارهٔ جهانونو واک دے

په نامه دَ هغه اللهُ

چې دَ کائنات واړه دریابونه سیاهی
او ونې بوټی قلمونه شی او بیا هم
دَ هغهٔ دَ صفتونو دَ احاطې کولو نه معذوره دی
او

په نامه دَ هغه اللهُ

چې زما قلم له ئې دَ لیک او ماله ئې
دَ لوست قدرت راکړے دے
هُم
دَ هغه کُل واکمن نه په خپل لیک لوست کښې
نور برکت غواړم (آمین)۔

☆

بره ستا نوم مې دَ آسمان په کنارو ليکلے
داستان دَ عشق مې دَ شفق په سرو وړمو ليکلے

زۀ مې دَ ژوند دَ کتاب هره پاڼه ياد نۀ لرم
خو هر يو لفظ مې ستا دَ سترګو په رَنجو ليکلے

کلکې وعدې دې، دَ راتلو خو راسره کړې دی
څکه هر لوظ مې ستا دَ سرو شونډو پستو ليکلے

ستا په دې سپينه خُلۀ اِعتبار نۀ لرم څکه ګُله
پوره يو غټ کتاب مې ستا په دې وعدو ليکلے

دَ کتاب هره پاڼه توره ده سکارۀ سکارۀ ده
هر يو غزل دَ دې کتاب مې په لمبو ليکلے

فاروقؔ خو ستا دَ يو نظر دَ ليدو وَس نۀ لری
پوره غزل ئې بيا هم ستا په دې کَتو ليکلے

☆

غم دې راله راکړو او ته لاړې بيا
ولې مې کفن کښې ژوندې نغاړې بيا

پاڼه شوله پاڼې بيا کتاب شولو
ژوند مې دې خزان کړو، واپس پاڼې بيا

يار نظَره شوې اوس ناجوړه دے
ځان به ترې لوګے کړم، نظَر پاڼې بيا

ننه پورې ناستې ته جوړ نۀ شومه
يو وارې غېږ راکړه، په ولاړې بيا

کله چې دَ زړۀ حال ورته ووايم
مخ شي دَ يار زيړ لکه دَ پاڼې بيا

سترګې دې چَوى دَ سيند دا شنۀ کاڼې
وتوکه رقيبه يار ته لاړې بيا

ځان چې کړى سينګار فاروقهٓ ګوره ئې
دنګه غړى وړى، لکه دَ زاڼې بيا

---

☆

زهٔ ستړے ستا دَ ظلم ناکردو کړمه جانانه
مایوسه ستا دَ سپېنې خُلې وعدو کړمه جانانه

نن یو څهٔ ، صبا بل څهٔ کله بَل څهٔ، بَل څهٔ وائې
ښهٔ ستړے ستا لانجو او دې دهوکو کړمه جانانه

پهٔ ویښه راته وایې چې په خوب کښې به درځمه
ډېر ستړے دې په ویښه هم اُودو کړمه جانانه

دَ سترګو په دَلدل کښې دې کړم ډُوب، زړهٔ دې یَخ نهٔ شو
سُوړے دې په ښو وروزو لِیندو کړمه جانانه

دَ کړَس خندا دې تندر دَ آسمان نه کمه نهٔ ده
زخمی دې سم په زړهٔ زُلفو اوږدو کړمه جانانه

ویشتلی مارغان زَر پورته کول دَ ښکار اُصول دی
بار بار دې سترګو مړ، پس دَ ویشتو کړمه جانانه

☆یادګېرنه:— دَ دې تپې په تاثر کښې۔
وهٔ دې ویشتم پورته دی نهٔ کړم خلق ویشتلي مرغی زر پورته کوینه

## قطعه!

زۀ خو مې دې ژوند لـۀ ژونده وويستم
زړۀ مې سترے سترے شو ساه ساه شومه
څو پورې به بوج دَ خپلې ساه ورمه
نور خو يار لوتلے يم تالا شومه

......☆☆☆......

## هائيکو!

سر ئې سر تور وۀ او لاسونه بره
ورته نزدې شوم چې بنيرې مۀ کوه
وې، لوپټه مې راپسر کړه، ما نکريزې ايښې

......☆☆☆......

# ژوند څهٔ دے؟

ژوند ډېر لنډ دے
نفرت پکښې نه ځائيږی
دَ اصولو پروا مهٔ کوه
زر هېرَوه
او
زر معاف کوه
هره ښُکلا خکُلوه
دَ زړهٔ نه مينه کوه
او
دَ زړهٔ دَ زوره خانده
چرته هم په څهٔ کار پښېمانه کېږه مهٔ
او
چرې هم دَ داسې څيز نه نفرت مهٔ کوه
چې
تا ژوند دَ رڼاګانو او ښُکلا سره
مخ کوی
بس دا ژوند دے هُم دا خوشحالی ده
......☆☆☆......

☆

هم ربّ رانه خفه دے هم خفه رانه جانان
هم دا دُنیا مې لاړهٔ هم تباه هغه جهان

په یو دوَه کښې حیران یم، دا په کومو دَشتو سَر یم
تش تور لاس ستا په دَر کښې، سوال کوؤمه دَ ایمان

جانان دغه جانان وهٔ چې غُرور ځان ته لوګے کړو
زهٔ خاورې یې ګڼلم، ځان ګڼهو بهٔ یې آسمان

شلېدلے ګرېوان، ساه نیولے ستا دَر کښې حاضر یم
هم تهٔ مې وسیله شې پناه راکړې دَ شېطان

فاروقه دَ غرض بُتان دَ زړهٔ نه رابهر کړه
بیا هله به پوهېږې، دَ ایمان پهٔ سُود او زیان

☆

اے زړګیه کۀ پوهیږې، مینه اور دے
په لمبو پورې سولیږې، مینه اور دے

لمبو په شان لَمبې غبرګې کښې نیسې
تۀ په دې هم نۀ رسیږې، مینه اور دے

اور او مینه خاطر نۀ کوی هیڅ کله
تۀ په کوم خیال کښې وسیږی، مینه اور دے

چې ئې مینه اوڅانګی نو اور ئې ځائے شی
تۀ په کوم یو تال ځنګیږې، مینه اور دے

دَ احساس قدر دَ حُسن سره نِشته
تۀ کۀ شپه او ورځ ژړیږې، مینه اور دے

په سرو شونډو ئې دهوکه نشي فاروقه
په دې اور کښې به سوزیږې، مینه اور دے

☆

کۀ ترې ډېر يم ګيله مند، خو يار مې خَوښ دے
کۀ هر څو رانه جُدا دے، زړۀ کښې ښخ دے

ما خو ډېره په پَستو خبرو پوهه کړه
نۀ پوهېږم چې دا زړۀ ئې، ولې شخ دے

تکه سره شوه دَ غُصّې نه ترې په شا شوم
شونډې بيلې ئې سرې ښکارى، سَم دوزَخ دے

پۀ والله کۀ مې دا زړۀ پۀ ديدن موړ شي
يار مې نن بيا دې کوڅه کښې، مخامخ دے

که دا دوه سترګې غړومه اے فاروقه
زړۀ چې ستا پرې دے روښانه، دَ يار مَخ دے

(صوتی قافيه)

☆

تور خالُونه دي په خوب کښې، دَ شپې ښکارى
نۀ پوهېږم تور په تور کښې، دَ شپې ښکارى

دَ يار مخ چې شى آئين نو زړۀ مئين شى
ماته ستا سترګو کښې کلکې وعدې ښکارى

پټ په زړۀ کښې ئې ډېر مۀ ساته جانانه
ماته ستا په شونډو ډېرې ګيلې ښکارى

زۀ کۀ هر څومره دَ يار نه لرې لاړ شم
هميشه راته له سيورى نزدې ښکارى

راسره چې ئې نو وخت په الوَتو وى
او چې نۀ ئې، شپې دَ اوږې وږدې ښکارى

تا فاروقؔ پۀ ځيګر ټول سُورے سُورے کړو
بانړۀ غَشى، هم دي وروزې ليندې ښکارى

## هائیکو!

ځو مره معصومه لیونی ده هغه
په وازه خُله خبرې کړی او وائی
سُرخي دَ شونډو نه مې لاړه نۀ شی

......☆☆☆......

## قطعه!

ولې مې زړګی ته دلاسې کوی
ښه راته معلوم دے چې بیا نۀ راځی
زړۀ کۀ مې هر څو دَ سترګو نۀ منی
هم هغه مې سترګو کښې بیا ښۀ راځی

......☆☆☆......

☆

بې له اوره دی په مینه کښې سېزل
زهٔ نادان ووم ما به چرې نهٔ مَنل

ما چې وخت دَ خپل همّت پنجره کښې قېد کړو
بیا آزاد مې ارمانونه الوَتل

ما دَ یار دَ کاڼی زړهٔ نه چغې ایستې
چې ئې ولید، زخمی زړهٔ زما جَلبل

ساقی ستا دَ میو جام نه مې توبه ده
بې توبې مې کړل شروع دَ شونډو څښکل

منزل خپله پښو له راغے په سجده شو
چې ئې ولید، زما بې دمې مزل

چې احساس مې غزوَنې خیال کښې وکړې
شی آسان بیا دَ منزل په لُوری تلل

چې بې وخته رانه وخت پوښتنې وکړې
راته گران شی جوابونه پَتَول

فاروق وساتلو یار دَ ښو شپول کښې
بیا ئې سترگو نه شو هېر، دُنیا کَتل

# دړوند خلاصه

لا وَختي دے صبر وکړه
لا دې اوس وَزرې وکړې
لا خو اوس ته دَ اَلوت ئې
لا خو اوس نمر په ختو شو
لا خو غټې سفر دې پاتې
لا دې قد سهوری نه لنډ دے
لا به قد او سهورے دواړه
دَ یو بل برابرېږی

پس دَ هغې بیا غمخوار شه
دَ دُنیا پیتې پهٔ شا کړه
دَ همّت او حوصلې نه
دا دُنیا پښو ته کړه ټیټه

خو بس یاد ساته زرګیه
چې دَړوند دَ ماښامی نه
مخکښې هر څهٔ را تَر سر کړه

دا سې نه چې قد دې سپوری

نه لنډ پاتې شی بې وخته

بس دا هر څۀ شی بیا پاتې

دا دَرُوند اخر اخر وی

اخری مازیګرے وی

......☆☆☆......

☆

سترګې سترګو کښې راځایٔ کړه، چې نشه شم
ستا غمونو کړمه سترے، چې دمه شم

چې دُنیا شی لنډه تنګه ژوندون ګران شی
بیا زهٔ خپلو حوصلو له حوصله شم

هره ورانه شی ودانه بیا پخپله
چې دَ خپلو اَرمانونو وسیله شم

بیا دَ غم تیارې پهٔ منډه لرې تښتی
چې دَ خپلو سترګو نُور شم او لَمبه شم

هر څهٔ کیږی خو چې ژوند دې په نصیب وی
بیا به څه وکړم چې یو ځَل په تَخته شم

خوشحالو نه به مې بیا هېره کوډې شی
کهٔ زهٔ هر وخت دَ دُنیا پهٔ غم اخته شم

زهٔ فاروقؔ به ګران نه ګران ښکار کورته راوړم
دَ عمل غشی ویشتو له کهٔ لینده شم

☆

ګرانه ده کربښې کۀ د ژوند نه د الفت ورانې شی
ترڅو چې زړۀ نه نخښبانې دې، د نفرت ورانې شی

لاسونه مۀ مروړه زۀ هسې هم تالا والا شوم
هسې نه ستا لاسو نه کربښې دَ قسمت ورانې شی

مازیګرے دے ښیرې مه کوۀ قبولې به شی
هسې نه تا ته چرې چارې دَ قُدرت ورانې شی

زما خو قدر تاسره نشته خبر به نه یۍ
ګنې کیدے شی خَلَقې مې په قیمت ورانې شی

زۀ خو دَ وخت څپېړې ووَهلم، خوار و زار یم
هسې نه تا ته حادثې چرته پۀ نیت ورانې شی

فاروقؔ بۀ ستا غمونه ټول پۀ دې سینه انبار کړی
پۀ تا دې رانهٔ شی، چی ورځې دَ ذلت ورانې شی

☆

مُسلسل دی لا رواني نهٔ ودرېږی
ستا پهٔ یاد کښې مې دا اوښکې تل ورېږی

نهٔ پوهېږم عبادت مې نهٔ قبلېږی
چې الله په کوم یو عرش باندې وسېږی

ما خو مینه کړې ربه جُرم نهٔ دے
دا سزا راته بیا ولې ملاوېږی؟

زهٔ خو تا دَ یار په حُسن پېژنمه
بس پهٔ دې خبره یار مې نهٔ پوهېږی

ژوند کښې غېږې مینې نورې زما نشته
زړهٔ کښې تهٔ، سترګو کښې یار زما وسېږی

فاروقؔ چرې هم څوک نهٔ دی ازار کړی
بیا مې زړهٔ ولې دَ غمه نهٔ تشېږی

# زړه ته مې حیران یم

ستا لانجو
ستا دهوکو
او ستا دَ دروغو وعدو
ډېر وکړولَم

ډېر وَس مې وکړو
چې زړهٔ مې درنه تور شي
خو زړهٔ ونهٔ منل
او بیا بیا ناکامه شوم

اوس هم هغه شان
ستا په نوم درزیږی
خو
کهٔ رشتیا راباندې وائې
نو
په اولَنی ځَل مې زړهٔ
پهٔ خپله ناکامی خوشحاله دے
......☆☆☆......

☆

شپه او ورځ زهٔ دَ جانان، پهٔ طمع پروت يم
مړاوے ګُل يم، دَ باران، پهٔ طمع پروت يم

دَ اَزغی اَزغی وختونو پهٔ پالنګ کښې
ستا دَ حُسن دَ خزان، په طمع پروت يم

کهٔ الله دې دا غُرور خاورې ايرې کړی
بس دَ دغې يو ارمان، په طمع پروت يم

تيتې سترګې چې زما په پښو کښې پرېوځی
زهٔ دَ هغه يو زمان، په طمع پروت يم

چې بيا چغې سورې ووهې زهٔ نهٔ يم
شی دې سر په بيابان، په طمع پروت يم

بيا مزار پهٔ مزار ګرځې او مرګ غواړې
په دُنيا دې شی ژوند ګران، په طمع پروت يم

دا فاروقؔ دې يو ځل بيا دَ ژوند ارمان شی
دا ارمان دې شی ارمان، په طمع پروت يم

☆

دَ مینې باغ له په هوا لکه بُلبل راشه
دَ سحر باد شه او دې باغ له مُسلسل راشه

دَ سترګو تور دې راله سپین کړل ته به کله راځې
خبر دے کۀ نۀ راځې نو خوب کښې خو یو ځل راشه

ما اوریدلی مینه تلو راتلو سره زیاتیږی
زۀ به هم درشمه، تۀ خبر دے په بدل راشه

ما ستا دَ سترګو دَ ښائیست دَ لیدو سوال کړے دے
بانۀ کړه غشی، سترګې تورې په کجل راشه

زلفې دَ مخ نه په شا واړه وه چې شپه سبا شی
پۀ ډکه خُله شه په خندا او ماله، تل راشه

زۀ فاروق ستا دَ سپینی خُلې، دَ خندا زور نۀ لرم
مړ دې شم، خاورې دې شم تۀ لکه اجل راشه

☆

ما اوس دَ فکر په تالونو ځنګېدل پرېښي دي
چې بې وفا شوې ما په پټه ژړېدل پریښي دي

ما ستا دَ مینې شراب څښکلې پرې خُمار یم
ما مېکدو کښې په جامونو هغه څښکل پرېښي دي

دَ کلي خلق رانه تاؤ دي ما پهٔ کاڼو اولي
حالانکې ما دَ یار کوڅې ته هغه تلل پرېښي دي

سترګې مې سرې دي خلق وائي چې شراب يې څښکلي
ما خو دَ یار دَ سُرکو شونډو پیالې څښکل پرېښي دي

ستا پهٔ ښائسته سترګو کښې ما ټوله دُنیا ګنڼله
تا چې مخ واړوهٔ، ما دُنیا سره لیدل پرېښي دي

فاروق خو دغه وو، چې ستا دَ یو خندا اونشو
ټول عمر ژاړې اوس يې هغسې خندل پرېښي دي

☆

شونډې سرې، پستې، پشانې دَ ګلاب
سپین غاښونه دې بکوورې دَ درياب

سپينه دنګه غاړه ښُکلې دَ ايلۍ
ريښمي ويښته تارونه دَ رباب

پهٔ مکېز لکه دَ زرکې قدم اخلې
سترګې دواړه دی پيالۍ ستا دَ شراب

ورځ او شپه دې مَخ او زُلفې راوَلي
هر يو ناز دې بيله پاڼهٔ دَ کتاب

دَ مستۍ نه دې ړنې سترګې نيولې
ستا دَ دنګې ونې نشته دے جواب

زهٔ فاروقؔ به دې پهٔ حورو بدل نهٔ کړم
ښهٔ پوهيږم چې فانی دے ستا شباب

☆

تاله دې الله دَ دُنیا هره خوشحالی درکړی
سوال کوم دَ الله نه چې ستا هر غم دې زما شولے

مینه کۀ دَ وینې پۀ بدل وی نو مې خوښه ده
هیڅ پرواه مې نشته که ستا مینه کښې تالا شولے

ماله ئې دَ ازل نه غم دَ ژوند سره تړلے دے
غوارم چې ستا سترګو کښې سره دَ غم فناه شولے

کله به دَ مینې دا دُنیا واپس آباده شی
لرې شی تیارې دَ غم بیلتون رانه جُدا شولے

## هائیکو!

خپلې همزولې هم ترې ډېره کوی
هر وختې ګرځی اورلړونے په لاس
جینی په جنګ پسې اوربشې ګرځی

......☆☆☆......

## قطعه!

ستا دَ راتلو غږ مې نن تر غوږ شو دَ رقیب دَ خُلې
ربّه عجیبه ده زیرے یو رقیب په بَل اوکړو
نن په هوا ګډ وو تَل ستا دَ خوشبویئ احساس
زُلفې دې سپړدلې وې، دا احسان دې بیَل اوکړو

......☆☆☆......

☆

دَ خیال دَ رنګینو نه، مې ستا جوړ کړو یو تصویر
شاهکار دَ زمانې وو په کتو ئې شوم دلګیر

لمنو دَ آسمان نه مې سُرخي شونډو له ورکړه
شبنم ئې شولې اوښکې څڅېدې لکه زنځیر

جامې ئې دَ رهبنمو هم ئې تاج په سر دَ حورو
په زمکه ورته کښېناستم حېران لکه فقیر

لاسونه ئې زما په وینو سرهٔ لکه نکریزې
په سرو لاسونو ناسته وه لیکو ئې زما تقدیر

هر رنګ پکښې بغېر وفا موجود وو ځلېدو
زړهٔ پورې رنګ دَ مینی پکښې نهٔ وو شوم زهیر

دَ سترګو مستي ستا دَ میو جام نه خُمار واخست
بانهٔ دې د رنجو سره وُو تېوله شپه شوګیر

بیا زُلفې دې هوا دانه وانه کړې په اوږو
غړې دې دنګه لوړه لکه غرونه دَ کشمیر

ژړا دې سرنده وه او خندا لکه بُلبله
پړ مخ دې پښو کښې پرېوَتم ستا زُلفو کړم اسیر

کتل مې درته ورو ورو په وریځو کښې شوې پټه
سپوږمۍ دَ څوارلسمې پړقېدې لکه شمشیر

دَ سپینو زرو شال دې لاس له راغې خو ته نهٔ وې
ستا شال زما کفن شو، بس ؤو دا زما **تقدیر**

......☆☆☆......

☆

خانه زړۀ دې پۀ ګوګَل کښې را ایسار کړه
رُخصتېږی یار' دا اوښکې دې په وار کړه

رنې اوښکې مې امېل شوې ستا په یاد کښې
دَ ځوانی تېغه مې ماته انتظار کړه

زۀ دَ ژوند په خوَږو پوې نۀ شوم زړګیه
پس دَ مرګه خو زیارت مې دَ مزار کړه

ساه صورت شه چې اوس چرې غم ونکړې
په ځنګل مې خوب کوه زړۀ په قرار کړه

ژړغونے مۀ ودرېږه ، ما رُخصت کړه
بیا به راشم فی الحال اوښکې دې په وار کړه

اے فاروقؔه یار دې نن درسره مَل دے
تور اوربل ئې کړه راخور' څُکل ئې رُخسار کړه

☆

مینه کوم کۀ پکښې وینه زما څاڅی
تا خپلوم که پکښې وینه دَ چا څاڅی

زۀ په غم کښې څوک لیدے نشمه خلقه
زړۀ مې پړق چوی چې دا اوښکې دَ چا څاڅی

پۀ باران کښې ئې رُخصت زما نه واخست
ښۀ وه پوهې نشوه چې اوښکې زما څاڅی

ستا دَ یاد ډېوه په اوښکو باندې پائی
ښۀ بلېږی چې دا اوښکې مې راڅاڅی

زۀ فاروقؔ چې څۀ لیکمه کاغذ لوند شی
ستا په یاد کښې هر وخت اوښکې زما څاڅی

# پُښتنه پېغله

تهٔ چې پهٔ سرو لاسونو جام د اوبو ماله راکړې
دَ مېکدې دَ ساقی سل جامه ترې زار به کړمه

تهٔ چې په سرو نازکو شونډو دوه خبرې اوکړې
زهٔ دَ دُنیا هر یو ښائسته کلام ترې زار به کړمه

ستا اننگی چې شی تک سرهٔ ستا دَ حیا دَ لاسه
دَ مازیگر مستې ورِمې، خُمار ترې زار به کړمه

تهٔ چې په مړو سترگو را اوگورې او وشرمیږې
دَ خپل ژوند ټولې خوشحالیانې ترې نه زار به کړمه

تهٔ په ژړا کښې چې پُخلا شې او بیا وخاندې
ژوند مې رڼا شی دَ سپوږمۍ رڼا ترې زار به کړمه

فاروقؔ خو ټول عمر دا ستا دَ زُلفو سیورے غواړے
دَدې دُنیا دَ هر یو بڼ سیورے ترې زار به کړمه

......☆☆☆......

☆

ما ته ستا سترګو کښې اجل ښکاري
نن دې کړه وړه راته بدل ښکاري

خبر دے راګوره که پرې مړ شمه زه
سترګې دې نه دي سم دَلدل ښکاري

دَ راز خبرې ته په سترګو کَوې
څکه خو ماته پکښې چَل ښکاري

خوَږو خبرو دې زه بیا لوټ کړمه
سترګې دې هم لکه دَ غل ښکاري

دَ بنګو بوټي به ترې هم لوګے کړم
سترګې دې تورې په کجل ښکاري

خُمار دَ جام هم ورته نه رسیږي
رنې دې سم دَ نمَر ختل ښکاري

زلفو دې سترګو باندې سورے جوړ کړو
اوس پکښې ګران شو وسهدل ښکاري

فاروقؔ ساتي دَ مینې باغ په وینو
دے حقیقت، تا ته مَتل ښکاري

☆

زما دَ قام دَ پُښتنې خاورې دا غَرِ سپین ږیری
شمله ببره، غټې پټکی دَ جرګو وَرِ سپین ږیری

دَ پُښتو ژبې دَ مانی دا زورَ وَرې ستنې
په پښتو رنګ، برکتی په جامه خرِ سپین ږیری

دَ کانی کربښې دی دَ دوئ خبرې سپینې سپینې
دَ هر پُښتون په خوشحالی او غم ګَکرِ سپین ږیری

زَړو هډوکو کښې دَ ځوانو جذبو زور لری تَل
دَ پوهې ډک، پهٔ عقل رنګ زمونږ دا زیرِ سپین ږیری

دَ دوئ وجود هر یو پُښتون له دَ انصاف احساس دے
پهٔ ډاګه وائی پَرِ ته پَرِ او وَرِ ته وَرِ سپین ږیری

کور پرې راټول، حجره پرې ډکه جُمات لا آباد وی
دغه سپین ډاګی سترګورَ په هیڅ نهٔ اَرِ سپین ږیری

زهٔ فاروق ډېر شُکر ګزار یم چې پُښتون پېدا یم
نازېږم زهٔ دَ پُښتنو پهٔ هر شبرِ سپین ږیری

☆

دَ زړۀ حاکم مې مقرر کړو، نور زۀ څۀ وکړمه
تاج دَ زړګی مې وَرپَسر کړو، نور زۀ څۀ وکړمه

دَ آسمان ستورې خو زۀ نۀ شمه راوړلے تاله
دا خپل ژوندون مې تاله درکړو، نور زۀ څۀ وکړمه

ما نه دَ ژوند يوه زړۀ پورې حصّه تا اوغوښته
ځان مې ځوانی نه لاس په سر کړو، نور زۀ څۀ وکړمه

دَ تلو په وخت خو څۀ ډالۍ مې ورله ورنکړې شوه
تش مې اميل دَ اوښکو ورکړو، نور زۀ څۀ وکړمه

تا چې په تلو کښې مخ راواړَولو ودې ژړل
فاروقؔ دې ټول پرهر پرهر کړو، نور زۀ څۀ وکړمه

# قطعه!

دومره راته یاد ئې چې بس هیر نهٔ ئې
زړهٔ که درزا هیره کړه نو مړ به شم
ولې مې سلګئی دَ اوښکو نهٔ منې
لار که اوښکو هیره کړه نو مړ به شم

......☆☆☆......

# هائیکو!

ډېره دَ زړهٔ دَ زوره مهٔ خانده ما پوهه کړله
زړګے زما دې تېول، پَرهر پَرهر کړو، خوږ دې کړلو
دَ زُلفو تار ئې راګزار کړو، چې بل غېږ اونکړې

......☆☆☆......

# غفلت

راځې به اوکۀ نا؟ خو تۀ شپه ورځ سترګې پۀ لار يې
نفرت دې پۀ سجده شو محبت ته، هزار بار يې

سپوږمى کۀ دَ وريځو سينه وشلوى پرقهرى
نو تا ولې دَ غم څادر اغوستے ناقلار يې؟

که ستورى په تيارو کښې ځليدے شى پرقيدے شى
نو تۀ ولې تر اوسه په تيارو کښې راايسار يې؟

که ګُل دَ ازغو مينځ کښې پۀ خندا خندا وسهږى
ته ولې په وږو وږو خبرو بې قرار يې؟

مارغان کۀ دَ آسمان دَ تاترو نه ښکار را وړے شى
بيا تۀ ولې دَ وخت په زولنو کښې ګرفتار يې؟

زمرے شه ملا دې اوتړه خپل حق کړه راترکوره
دوه سترګې دې څلور کړه چې روان دَ ژوند په لار يې

دُنيا ته يې راغلے اوس ژوند زده کړه اے فاروقه
ښۀ بد دې دَ خپل سر دى، تۀ دَ چا پۀ انتظار يې؟

☆

ځم هغې کوڅې ته په طرف دَ رڼا بیا بیا
وینمه منظر دَ عقیدت او ښکلا بیا بیا

لاخو ئې بې خوده یم دَ سترګو پۀ خُمار کښې
سترګې شرابي زۀ خکلوؤم دَ آشنا بیا بیا

ورشئ او دَ مینې دُشمنان راله راټول کړئ
خېژی اوس پۀ دار باندې مجنون دَ لیلیٰ بیا بیا

ورځ ده دَ قیامت خو زۀ حساب ته اوزګار نۀ یمه
شمارمه خالُونه او بنګړی دَ آشنا بیا بیا

تور ټکی مې خوښ دی ستا دَ زنې خال هم تور دے
زۀ حجرِ اسود هم ښکلوؤمه په دا بیا بیا

مونږه خو دَ وخت دَ خُدایانو بغاوت کړے
عشق به تل آزاد وی فاروق کړی دا وینا بیا بیا

# دَ بنګړو شړنګ!

ستا!  دَ بنګړو شړنګ سره
نېغ په کټ کښې کښېنمه

ماچوه بنګړی دَ شپې
یا په ډَډۀ مۀ اوړه

تۀ له ځانه نۀ يې خبر
ما باندې شوګير کړې شپه

مۀ اچوه بنګړی دَ شپې
یا پۀ ډَډۀ مۀ اوړه

......☆☆☆......

☆

دا ستا دَ حُسن نه به کُله خپل لیمهٔ لوګے کړم
ستا دَ ښائسته سترګو به یاره دا خپل زړهٔ لوګے کړم

دَ انسان قدر شولو ورک دَ انسانانو سره
زهٔ خو به سهوری دَ انسان نه خپل باڼهٔ لوګے کړم

دَ سپړدو زُلفو خوشبویانې دې مثال نهٔ لری
زهٔ سپیلنی به دې بیل بیل دَ هر ویښتهٔ لوګے کړم

راشه چې غاړه غتېی یاره دا پُښتو ژوندی کړو
زهٔ به ترې ځان سره بې شماره پُښتانهٔ لوګے کړم

دَ پُښتنې خاورې پېدا یم زهٔ دې قدر کوم
ګنی دَ وخت شاهان به ډېر دَ پُښتو زهٔ لوګے کړم

فاروقؔ دَ وخت په لرو بر ژور نظر چې لرې
دَ پښتونخوا نه به خپل مال او دا خپل زړهٔ لوګے کړم

☆

تيارِې دَ تورو زُلفو چې دې جوړې کړلې، شپه شوه
زهٔ فکر سره مل شوم، او دنيا ټوله اودهٔ شوه

هر تار دَ زُلفو وار په وار جوتې هوا کښې راکړې
قلار پرې زهٔ اودهٔ شومه، بالښت مې ستا سينه شوه

پهٔ خوب کښې بيا ناڅاپه ستا دَ شونډو غلا له لاړم
نتکئ دې ورپرې نهٔ ښودم، لهَ کومې رااوړِده شوه

شېطان دې پهٔ چار ګُل کښې بره ناست پهٔ اشارو وو
يو ځلې بيا ورجګ شه، نتکئ هم پهٔ خوب اوده شوه

سرې شونډې دې دَ زُلفو پهٔ تيارو کښې بلېدلې
سينه دې شوله ګرمه، هم پَسته شوه پاغُنده شوه

ناڅاپه زهٔ راوېښ شوم ګنی تلے مې ايمان وو
فاروقه يار دې هم دَ حيا، تکه سره لمبه شوه

## هائیکو!

پهٔ چم ګاونډ کښې پهٔ مکیز ګرځی
خپلې همزولې ورته هم پسخیږی
جینی له مور په زنه خال ایښے دے

......☆☆☆......

## قطعه!

ما خو دَ وخت دَ اندیښنو نه ډېره ډَډه اوکړه
خو چا پرینښوؤم ستا دَ کلی نه مې کَډه اوکړه
هره ګړی مې، بس هم تهٔ، په سترګو کښې غرړېږی
ځکه دَ هرې غېرې مینې نه مې ډَډه اوکړه

......☆☆☆......

☆

دا زما ځايْ نه دے دا دُنيا د ليونو ده
پټ مي کړه په غېږ کښې دَ دنيا دَ ناکړدو نه

هر يو مَخ کښې ماته شل مکرونه، فريب ښکاری
موري زۀ ويريږم دَ انسان شکل کښې سپو نه

يو بَل پسې نښتي انسانان لکه ژوري دی
ويني دَ يو بل څکی خو چې ډک کړی جيب پېسو نه

خُلې نه يْ بويونه دَ حرامو راروان وی تَل
لاس کښې تبسبح، ناست جُمات کښې ډک دی دَ دهوکو نه

ولې دَ لالچ او دَ مذهب پۀ نوم قتلېږی تَل
ورک هغه مذهب شه چې کړی سپک انسان پېسو نه

پرمخې راپرېوځی فاروقؔ ظُلم ته کتے نشی
چغې يْ بيا اَوری دَ آسمان دَ تاترو نه

☆

مینه کښې زړۀ خو دَ هر چا ماتېږی
زړۀ سره سَر صرف زما ماتېږی

سپوږمی دَ لرې دې ښکُلولے نشم
ګنی دَ یار مینه په تا ماتېږی

ښۀ ده په غېږ کښې دې وچت ونیوم
ګنی دَ خیال پَوړی په ما ماتېږی

دَ هاړ روژې مې تنګولے نشی
جانانه تنده مې په تا ماتېږی

کۀ دَ آسمانه راګُزار شی خبر دے
چې دَ نظره پرېوځی ملا ماتېږی

راشئ یو ځائے شئ پُښتنو ملګرو!
ګنی زمونږه پښتونخوا ماتېږی

زۀ فاروقؔ نور پرې دومره نۀ پوهېږم
کټ کښې بنګړی ښۀ په رضا ماتېږی

☆

ژوند رڼا وي چې بلېږي، دَ يار سترګې
شپه رونېږي چې غړېږي، دَ يار سترګې

ترې دَ اوښکو سېلابونو رانجهٔ يوړَل
تکې سرې مې لا ځلېږي، دَ يار سترګې

پهٔ مزه مزه دَ عشق کتاب زهٔ لولَم
پهٔ ورو ورو راته بلېږي، دَ يار سترګې

زهٔ دَ عشق ممبر ته وختم ګويا شوم
چې مې ژوند نه، نهٔ بېلېږي، دَ يار سترګې

پهٔ جاګړ او سيلي نهٔ دي چې به مړې شي
دوه ډېوې دي چې بلېږي، دَ يار سترګې

طوفاني نظر ته ستا زهٔ کتے نشم
دَ حيا نه چې تيتېږي، دَ يار سترګې

زهٔ فاروقؔ خو حېران کړے يم دې اوښکو
بې خطره راورېږي، دَ يار سترګې

---

# هائیکو!

چې کله یې وینځې په انګڼ یې ګُلې مهٔ خوره وه
دَ رقیبانو ډلې ستا ورهٔ کښې زغملے نهٔ شم
ستا لوپټې نه ستا دَ زُلفو خوشبویانې راځی

......☆☆☆......

# قطعه!

تکه سره شوه دَ غُصّې نه بیا خولې شوه
دَ رنجو خالونه یې ایښې وو ټول وران شو
ګُله دومره غُصه ښه نهٔ ده قلار شه
مور ته ستا خالُونه بیا کیښودل ګران شو

......☆☆☆......

# خمار

راشه پهٔ غیږ کښې مې اودهٔ شه چې نشه نشه شې
دَ خپلو شونډو پیالې نن زما پهٔ شونډو اوڅښکه

سترګې دې سترګو کښې راځايْ کړه چې خُمار مو یَو شی
دَ خپلو سترګو خمار نن زما پهٔ سترګو اوڅښکه

سم دَ ماښامه دې دَ سترګو نه بهیږی اوښکې
دَدوه چینو اوبهٔ یو ځايْ دَ غرونو دَنګو اوڅښکه

دَ هجر شپه کهٔ شی اوږده خو صبا کیږی ضرور
پیالې دَ غم او دَ بیلتون ګُله پهٔ منډو اوڅښکه

فاروقه یا خو دَ یار سترګو نه خُمار قرض کړه
که درېْ نه کړو نو یو ډک چیلم دَبنګو اوڅښکه

......☆☆☆......

☆

پړ مې کړه نو مړ مې کړه خو داسې خفګان ښۀ نۀ دے
بې ګناه بندی لۀ دا بې ځایه زندان ښۀ نۀ دے

تا په ډکه لاره کښې ګریوان زما نه اوشلوۀ
دې قسم خبرو له دا ځایۍ او زمان ښۀ نۀ دے

راشه چې دَ بیلې بیلې ورځې حساب درکړمه
زۀ خو بې ګناه یم ګُله دا بدګُمان ښۀ نۀ دے

مینه جواری نۀ ده چې ګپ دې ترې جوړ کړے دے
مرورې به لاسُونه بیا بې ځایه تاوان ښۀ نۀ دے

تاله خو فاروقؔ دَ خپل زړګی غوښې درکړې دی
بیا به شې پښېمانه ګُله وروستو ارمان ښۀ نۀ دے

☆

که موسیٰ دَ یار دیدار له تَلے نۀ وے
تورو سترګو به دَ یار وړلے نۀ وے

چې په تلو کښې زړه غونې شوې بدحال شوم
رنګ الوتے مې دَ یار لیدلے نۀ وے

ما بغیر تسبحو هر وخت الله یاد کړے
کاش په ذکر کښې مې شمار لیدلے نۀ وے

زۀ په سپین رُخسار دهوکه نۀ خورم زړګیه
کۀ سترګو ستا، کښې مې اعتبار لیدلے نۀ وے

کۀ قسمت زما کوته نۀ وے فاروقه
دَ اختر په ورځ به یار رتلے نۀ وے

☆

دَ ازل نه ستا پهٔ عشق کښې ګرفتار یم
نهٔ پوهېږم چې روان په کومه لار یم

په خورو تنهو خوبونه کوه یاره
ګرېوان څېرې، بې منزله په رفتار یم

دا دَ عشق سمندر دومره ظالم نهٔ وو
بې ګودره دې لاهو کړم بې اختیار یم

لا خو زړهٔ په سینه ښهٔ مضبوط لرمه
ګنې ستا خو زهٔ دَ زُلفو یو ګُزار یم

ښهٔ پوهېږم چې راتلو کښې دې اجل دے
زهٔ دې بیا هم دَ راتلو په انتظار یم

ښُکلې مَخ ته دې کتے نهٔ شم شرمېږم
ګنې ستا کتو ته هر وختې وزګار یم

زهٔ فاروقؔ دې هر محفل کښې ډاډه ستایَم
کهٔ زهٔ ډېر هم ستا دَ ظلم نه بې زار یم

☆

ستا غمونه چې وَتلی دی، دَ شماره
مینې ستا یم زهٔ ویستلے، دَ روزګاره

سترګو تورو نه دې شپول دَ بڼو تاؤ دے
ښاماران دَ زُلفو تاؤ، ستا دَ رُخساره

ستا دَ نوم سره مې زړهٔ کښې یو درَز اوشی
ستا په یاد مې، دا زړګے شی ناقلاره

داسې لګی چې په للمه باران اوشی
ستا په دوه خوږو خبرو زما یاره

ستا ورې ورې خبرې شی رایادې
دواړه سترګې بیا ورېږی مې بې واره

هر څهٔ وایه خو دَ تلو خبرې مهٔ کړه
دا یو دوه لحظې کړه تېرې په قلاره

فاروقؔ ستا سترګو ته کوری نو نشه شی
دَ ساقی جامونه ټول شول بې خُماره

# کاش!

چې دَ جُمات چنې
پهٔ ورځ کېښې دَ دوؤ پخائے
پنځه وخته
لکه دَ مونځ پشان
وظیفه راتهٔ لولي

نو ما به
پنځه ځله پهٔ ورځ کېښې
ستا
دیدن کولې

......☆☆☆......

☆

ستا خو وار دَ حُسن تېر شو، لادې سترګې پهٔ آسمان دي
واپس ماته کتل غواړې، خو نظر تېتوَل ګران دي

وائي توکلې لاړې خُلې له، واپس کله راتلے نشي
دَ لیندې وَتلی غشی، بیا واپس ستنَول ګران دي

چې زړګے مات شي زړګیه واپس کله رغېدے شي
تا اِعتبار زما مات کړے اوس ئې بیا جوړَول ګران دي

هر خواهش مې ختم شوے دَ دنیا نه مې زړهٔ موړ دے
اودهٔ شوی ارمانونه بیا زما ویښوَل ګران دي

وخت چې تېر شي هر څهٔ هېر شي خو زما کله هېرېږی
ستا ظلمُونه سِتمُونه سپک نظر هېروَل ګران دي

فاروقؔ اوس هم ستا یادونو سره شپه او ورځ مشغول وی
خو ستا مخ ته په زوره خیال، او زړو سترګو کَتل ګران دي

# قطعه!

اوښکې چې دَ سترګو دَ رنجو سره ملګرې شوې
جوړه صحيفه شوه مخ کتاب شو کرښې کرښې شو
هرې يوې کرښې ئې حالونه راڅرګند کړل بيا
جوړه ترې قيصه شوه مخ کتاب شو کرښې کرښې شو

......☆☆☆......

# هائيکو!

هره غرمه دې اننګی لکه منې راسرهٔ شی
سترګې دې ډکې شی دَ اوښکو نه په تورو لوګو
تهٔ چې په سرو شونډو پوکی وهې تنور لمبه کړې

......☆☆☆......

☆

هر قدم کښې ئې چَل دے، جوړې وژنی مې
نن ئې رقیب مَل دے، جوړې وژنی مې

بې اجله مرګ دے د یار سترګو کښې
یار جوړ کړے چَل دے، جوړې وژنی مې

بله طریقه مې مرګ له اوګوره
اور ئې په زړهٔ بَل دے، جوړې وژنی مې

زُلفو نه خُندئ راته را اچوی
هر یو تار کښې ئې وَل دے، جوړې وژنی مې

لا مې سمے مرګ ته ګوره نشته دے
خور ئې تور اوربَل دے، جوړې وژنی مې

نور دَ فاروقؔ ژوند نه طمع قطعی شوه
سترګو کښې ئې اجل دے، جوړې وژنی مې

☆

ځان يې نن دَ ځان نه اوچت شوے دے
خيال يې دَ آسمان نه اوچت شوے دے

تا نه مې اعتبار داسې اوچت شولو
ځنګ چې مې زمان نه اوچت شوے دے

هيڅ څوک دې دُنيا کښې مُخلص نشته اوس
زَر او مال انسان نه اوچت شوے دے

هر څو کۀ دُنيا راته راوارېږ مَخ
قدر دَ بې ايمان نن اوچت شوے دے

سپک شولو درانۀ او درانۀ سپک ولې؟
تله کښې ايمان نن اوچت شوے دے

عقل بې شرمي ځان ته لوګے کړلو
خر نن دَ انسان نه اوچت شوے دے

څکه مسلمان دے خوار و زار فاروقؔ
لاس يې دَ قرآن نه اوچت شوے دے

يادګيرنه:-

تله کښې ايمان نن اوچت شوے دے، تله کښې چې کوم اړخ اوچت وي نو هغه سپک وي

# ماله دا یو جانان بس دے!

یوه وروځ شو مه روان
بې مقصده او ګمنام
دې ځانی دُنیا نهٔ لرې
چرته لرې او ډېر لرې

نهٔ پهٔ ځان زهٔ پوهېد مه
نهٔ پهٔ تنده پوهېد مه
نهٔ په لوږه مې څهٔ کار
زهٔ بې ځانه په رفتار

هر قدم سره سکون
هر نظر سره سکون

ډېرو دشتو نه شوم تېر
ډېر سیندونو نه راتېر

ناڅاپی چې مې نظر شو
یو تالاب مې تر نظر شو

بیا مې وخت ته شو نظر
شپه بې ځایه راپسر

څه سکنیے سکنیے ماښام وو
څه ازغے ازغے ماښام وو

دَ مسکین پښان یو غاړې
دَ تالاب زه کښېنا ستمه
نندارې کومه هر لورې
را غونډ غلے کښېنا ستمه

ماښام هم په تېرېدو شو
دَ بُلبلو په چغار کښې
سپوږمۍ رو رو راښکاره شوه
بیا دَ ستورو په یلغار کښې

چې سپوږمۍ مې اولیدله
لکه ستا اوځلیدله
ډیر دَ زړهٔ نه لهٔ ارمانه
تهٔ رایاد شولې جانانه

بیا فکرونو کښې شوم ډوب
ستا یادونو کښې شوم ډوب

بس هم تهٔ وې او هم زهٔ ووم
بس هم تهٔ وې او هم زهٔ ووم
ستا دَ سترګو په تالاب کښې
ډوب شوم، هلته کښی اودهٔ شوم

موده پس مې زړهٔ قلار شو
موده پس مې دمه اوکړه
موده پس مې تندے خور شو
موده پس مې زړهٔ ټکور شو

ما پهٔ خوب کښې خوب ليدلو
ډېر سکون وو ډېر سکون وو

خو چې کله خوب نه ويښ شوم
هر يو غم مې سر ته ناست وو
هر يو سترې اسويلې مې
واپس مل شو هلته ناست وو

لا خو اوس هم زهٔ په خوب يم
ايله يو خوب نه راويښ شوم
ډېر غمګين شوم او زهير شوم

ربّه سوال در ته کوؤ مه
پا مې نه څې ګنې مرَمه
دو مره دروند دَ يار دا غم دے
زهٔ دَ بل وَس نهٔ لر مه

لا اودهٔ ښهٔ يمه ربّه
لا بې خوده وخت تېرېږی

لا مې دا غمونه ډېر دی
لا مې دا يو جانان بس دے
لا مې مهٔ خوځوئ خلقه
ماله دا يو جانان بس دے
......☆☆☆......

☆

تاکړمه پېدا بيا دې فِدا کړمه
تا په بې وفا ربّه شيدا کړمه

چغې سورې خېژی وائی خاموشه يم
تا خو زهٔ په کور کلی رسوا کړمه

مينه خو دَ راز ډکې خبرې دی
دې بې واکې څُلې دې زهٔ تباه کړمه

تهٔ دې دا تندے زړګيه خور کړه اوس
مور او پلار دې دواړه به رضا کړمه

هر کله چې برَغ منګی په غيږه کړې
ښکُل به دې بيا سرې شونډې په غلا کړمه

يو څلې چې جُخته غاړه ورکړمه
بيا به ئې په څهٔ چل وروستو رضا کړمه

تهٔ زما دَ سترګو جادو نهٔ منې
څنګ دې په زړا کښې په خندا کړمه

ستا ګرېوان کښې لاس به دَ فاروقؔ وی بيا
ظلم به دې حشر کښې رشتيا کړمه

☆

تا کۀ پۀ سل ځله جفا وکړله
ما درسره بیا هم وفا وکړله

څۀ اوشو کۀ یار مې بې وفا شولو
ما سره غمونو وفا وکړله

ورشئ خوشحالیانو له خبر ورکړئ
ما او غم دَ عُمر سودا وکړله

کور مې سپرلی نۀ پېژنی پوهه یم
ځکه مې خزان ته ژړا وکړله

نمر خو دَ تیارو نه شاته پټ شولو
ما سره سپوږمۍ شپه بېګاه وکړله

"زۀ په دې شلیدلی ګرېوان څۀ وکړم"
ډېره یې ګیله یاره له تا وکړله

ستا په خیال مې ګل ته تږله ورخ کتل
دا مې سترګو بیا څۀ خطا وکړله

نن دې قابو یار ته سجده کړې وه
دا دې فاروقؔ خانه ګناه وکړله

☆

بې له تا به ژوند رنا، نشي جانانه
زړه مې تَق چوی چې ته رانشې جانانه

دَ وفا زِخمونه تل دَ فخر وَړ وی
پتړوؤم ئې چې رسوا، نشي جانانه

ستا په سر مې دَ کور کلی بد په سر کړل
اوس لاس راکړه بې وفا، نشي جانانه

تا راکړی دی دردُونه رنګ په رنګ
ما زغملی چې خفا، نشی جانانه

وچې شونډې ګریوان شیرې لاره سارم
تور مابنام شی خو ته، رانشې جانانه

ګُله سر دې په سینه راته وُس کېږده
چې راپورته تر سبا، نشي جانانه

زه فاروقؔ خو ئې دَ ژوند وسیله ګڼم
خانده، خانده، په ژړا، نشي جانانه

☆

دَ احساس او دَ جفا پهٔ اور کښې سوځم
ستا دَ سرو شونډو لمبو کښې همیش سوځم

ستا دَ سترګو پهٔ خُمار کښې فنا کېږم
سم دَلدل دے لاډوبېږم کهٔ نور خوَځم

مازيګر کښې چې ئې وَر راپسې بند کړو
پس دَ هغې نه دَ يار ديدن له نهٔ ځم

زړهٔ مې تټق چوی چې تهٔ سترګې رانه واړې
بې نوا شم ګنې ستا کوڅې ته بڼهٔ ځم

زهٔ فاروقؔ دا ستا دَ زلفو جال کښې ګېر يم
زهٔ هم خوَښ يمه دې قېد کښې بَل خوا نهٔ ځم

# بخت او عقل

بخت او عقل چې دي دواړه شی په سَمه
دَ ژوند هره ګړهی نوې زېرې راوړی

هره پېښه بیا پخپله سَمے اوخوری
شی سرۀ زَر، کۀ بیا دَ خاورو ډیرې راوړی

......☆☆☆......

# قطعه

نَن په سرو شونډو دَ وَرایه په خندا ده
دَ زړۀ حال دې ورته وایه دا ئې وَخت دے

چې مې مخې له نَن راغله' مَخ ئې پټ کړو
دَ دیدار نصیب مې نشته' دا مې بخت دے

......☆☆☆......

# ستا راتلل اوس يو خوب دے!

هغه څۀ ورځې وې
لاس پۀ لاس، غاړه په غاړه
شپه او ورځ دَ سيند په غاړه

بې فکره دَ يو بل پۀ اوږو خوب

پۀ ټوقو ټوقو کښې دَ يو بل نه خفګان
او بيا په خپله پُخلا کېدل
پۀ وړو وړو خبرو خندل او ژړل

زۀ نن هم سوچ کوم
څو مره معصو مې جذبې وې
څو مره ښائسته دُنيا وه
څو مره په مينه ککَړې لمحې وې

خو بس!
يو ورځ دې ظالمې دُنيا
زما نه لرې، ډېره لرې

دَ رسمونو په ډولی کښې
دَ رواج دَ سر صدقه کړې

او دَ بل دَ کور، دَ آبادولو په نیت ئې
زما دَ زړهٔ کور وران کړو

اوس هم هغه دُنیا ده
خو تهٔ پکښې نه ئې

ما خو دا دُنیا ستا په سترګو کتله

خو اوس هغه سترګې نشته
نو هغه دُنیا هم نشته

هغهٔ ټول احساس او رڼا
ستا ذات سره تړلی وو

اوس!
هره شپه ستا دَ راتلو سوچ کوم
خو
ستا راتلل اوس یو خوب دے
......☆☆☆......

☆

سادگی چې انتها شی نو سنګار شی
چې مستی دَ خوده وځی نو قرار شی

چې دې سر نه په اوږو باندې راپرېوځی
الووَل دې زُلفې تاؤ لکه ښامار شی

ملنګی دَ واړه زړونو بادشاهی ده
فقیری نه چې مخ واړه وی په دار شی

سترګې دواړه مې لوګے ستا دَ چشمانو
زړۀ مې غواړی یو په دوۀ دې دا خُمار شی

چې دَ عقل نه شی خلاص په غُرور سَر شی
چې آدم حرص شروع کړی نو ښامار شی

فاروقؔ تَل دا ستا دَ غم سره مشغول وی
ستا دَ یاد نه چې غافِل شی نو وزګار شی

☆

ته مهٔ ویریږه چې پهٔ مینه کښې تهارې دی ګُله
زمونږ دَ مینې په ډېوه کښې زمونږ وینه سوَځی

کهٔ رقیب ماته په زَر ځله بې وفا اووائی
الله ګواه دے ستا په مینه کښې مې وینه سوَځی

دا خو به تړوله دُنیا مونږ باندې الزام لګوی
مونږ بې ګناه یوُ کهٔ هر څو دَ دُنیا وینه سوَځی

ته په خپل ځان او زما مینه باندې ډاډه اوسېږه
دَ وخت لمبې به اول ما، او بیا مې مینه سوَځی

زهٔ فاروقؔ تَل دَ یو ازمېښت پهٔ سمندر لاهو یم
مینه بڅ کومه کهٔ هَر څو مې پکښې وینه سوَځی

# دَ سپوږمۍ شپه!

دَ سپوږمۍ شپه وه
لیلـٰی اوده وه
یَو تماشه وه

سپوږمۍ وَریځو کښې شوه پَټه
دَدې رُخسار هم زُلفو پټ کړو
بیا سپوږمۍ نیمه راښکاره شوه
دَدې هم باد نیم مخ نه
زُلفې په شا واړَولې

سپوږمۍ به ډېره پړقېدله
لیلـٰی هم ډېره ځلیدله

په سپوږمۍ وو، یَو څو داغُونه
دَدې پهٔ مخ باندې خالُونه

سپوږمۍ شی پټه کله ښکاری
دا هم په ډَډه باندې واوړی

زهٔ يې مشغُول په ننداره وم
شو سَحر هېڅ نه خَبر نه وم

سپوږمی شوه غائيـبه، دا راويښه
زُلفې يې شاته وارړوَلې

زهٔ هم پهٔ ويښه خوب نهٔ ويښ شوم

چې زهٔ راويښ شوم حوصله شوم
واپس دَ دې دُنيا حصّه شوم
......☆☆☆......

☆

کله مې پښتو کله پښتې بیا ماتوی
سترګې شرابی ئې ډکې پیالې بیا ماتوی

ګل څوانی او سرې نازکې شونډې ئې لا بیلې
ګل رَژوی هم دَ ګُل غوټی بیا ماتوی

شونډې تکې سرې ئې ورله خوږ کړلې غصه شوه
قهر نه سره لمبه شوه اوس نتکی بیا ماتوی

تندر دَ آسمان به ترې نه ډېر ښهٔ وی ملګرو!
دا دَ کړس خندا زما زړګے بیا ماتوی

خیر دے که دیدن پکښې رانکړی ګیله نه کوم
ولې مې کچکول دَ ملنګی بیا ماتوی

زهٔ دَ زمانې خدایان نهٔ منم مُنکر یم
نه کومه سجده کهٔ مې تندے بیا ماتوی

زهٔ فاروقؔ حیران ئې سادګی ته یمه خلقه
ښکُل ئې چې په زور کړمه منګے بیا ماتوې

# قطعه!

زړهٔ ته مې نزدې يې کهٔ دَ سترګو مې پناه شولې
اوس مې هم يادېږې کهٔ هر څو تهٔ بې وفا شولې
هره شپه پهٔ پټو سترګو ستا سترګې فاروق وينی
تور يې شولو سپين دَ سترګو ستا سترګې رڼا شولې

......☆☆☆......

# قطعه!

مُشک و عنبر دی خاورې ستا دَ کوڅې
ډېر بختور دی خلق ستا دَ کوڅې
ما به يې هره ورځ زيارت کولے
ډک دَ خطر دی خلق ستا دَ کوڅې

......☆☆☆......

☆

سترګو کښې ئې چَل دے ترې خبر يمه
مرګ زما اَتَل دے ترې خبر يمه

مهٔ مې رټئ خلقه ګنهګار نهٔ يم
دا دَ رقيب چَل دے ترې خبر يمه

ما خو ئې دَ لاس نه جام په لاس کړلو
شونډې ئې جام بيَل دے ترې خبر يمه

دا چې وائي رندانو ته کافر کافر
اور په مُلا بَل دے ترې خبر يمه

څهٔ چې راپيښېږي پروا نهٔ لرم
مل دَ لارې مل دے ترې خبر يمه

نن ئې ارادې فاروقهؔ ښې نهٔ دی
خور اور ئې اوربَل دے ترې خبر يمه

# هائیکو!

مور ته ئې په غوَرِ کښې دَ بهګاه نه اووئیل
که دَ ملک خوئ له مې نۀ ورکوئ
سحر دَ سپرو دارو خورم چې مره شم

......☆☆☆......

# قطعه!

حُسن دې زۀ کرم لیونے سپیلنے
خکه دې کلے لهونو نه ډک دے
مور ته دې وایه چې نظر دې مات کړی
هر یو زړګے د اسویلو نه ډک دے

......☆☆☆......

# آخري ديدن

دَژمي مازيګر وو
زيړے زيړے نمر وو
دَونو پاڼې څۀ په لارو
او څۀ په هوا کښې ګرځيدې

دَ غرۀ لمنه دَ خزان باد سپېره کړې وه

زمونږ دَ جونګړې ګېر چاپيره
دَ توتو وَنو پاڼې رژيدلې وې

زۀ او تۀ دَ نور کله پشان
لاس په لاس بهر اووتو
او بغېر څۀ وينا روان شو
دَ نمر دَ پرېوتو ننداري له

دَ يو څو لحظو پس
يوې اوچتې غونډۍ ته اور سېدو
او لاندې، بره، ګېر چاپېره
دَ وخت تغيرونه ګورو

مرغۍ خپلو جالو ته
دَ رزق دَ لټون نه پس واپس روانې وې

شپونکو هم ګډې بيزې راستنې کړې وې
او دَ خزان پهٔ سپېرو دوړو کښې
دَ نمر پهٔ لورې په مزه مزه پناه شول

زميندار هم بوې په اوږه
او غوايان په جَغ کوروُنو ته
واپس روان وو

دَ خزان څپېرې وهلې غرونه
او چاپېر چل دَ شپې څادر ته لاس کړو
او پهٔ نمر ئ په مزه مزه راخور کړو

ستا په مخ عجيبه سپيره چنې پروت وو
زُلفې دې هم بې ترتيبه
زما په اوږو پرَتې وې

سردې هم نا زړهٔ زما پهٔ اوږه ايښے وو

بیا دې زما لاس په لاس کښې اونیو
او کله ماته او کله نیم ړوب شوی نمر ته
په کتو شوې
ګویا څۀ ناغوښتونکې حادثه راپیښیدو واله وه

ما خو اوښکې دَ سترګو
پۀ کاسو کښې ټینګې کړې
خو ولې تا نه بې واکه شوې

دا سې لګېده
چې وخت هر څۀ واپس کړل
هر شې واپس واپس روان وو

دا هغۀ ورځې وې
چې حقیقت ئې دَ یادونو
پۀ شپو کښې دَ همېش دَپاره
بدل کړو
او
دَ جدایې ورځو، وَزرې تلَل شروع کړل

مونږ خاموشه وو
هر څۀ لکه پخپله ګویا وو

او مونږ دواړه واحد
دَدوی خاموشی په ژبه پوهیدو والا
هلته موجود وو

خو ستا ژړا دا خاموشی بې خوده کړه
تا ماته کتل او ما ستا سترګو ته

نمر په آخری سلګو وو

مخونه تَت شوَل
سترګی ړندې شوې
په مزه مزه مونږ نه یو بل ورک شول
مونږ یو بل محسوسولو
خو لیدے مو نهٔ شو
لکه یادونه

دَ نمر آخری سُرخی هم ختمه شوه
او تکه توره شپه راخوره شوه

دَ وصال دې آخری ورځې نمر
دې آخری دیدار
دَ ځان سره نامعلومه وسوسې

زمونږ دَ ژوند ملګرې کړې

او

پښپله زمونږ دَ حصّې دَ دیدنونو سره

ډوب شو

نمر خو به سبا بیا را اوخیژی

خو

زمونږ دَ وصال دُنیا به

هم هغسې دَ بیلتون په

تیارو کښې ډوبه وی

دومره راته یاد دی چې بَس هیر نۀ ئې

زړۀ که دررَزا هیره کړۀ نو مړ به شم

......☆☆☆......



زۀ مې د ژوند د کتاب هره پاڼه ياد نۀ لرم
خو هر يو لفظ مې ستا د سترګو په رنجو ليکلے

انجينئر **فاروق خان فاروق**

www.nazarpanra.page.tl